**التقوی د لوړو زده کړو مؤسسه**

**حقوقو او سیاسی علومو پوهنځی**

**ستراتیژیک پلان کمیته**

# د حقوقو او سیاسی علومو پوهنځي د ۱۴۰۲هـ ش د ستراتیژیک پلان د لومړۍ ربعی تطبیقی راپور

**کال.........................................................................۱۴۰۲**

**د ریس پیغام**

د علمی کورنی درنو لوستونکو! خوښ یم چې د حقوقو او سیاسی علومو پوهنځی د ۱۴۰۲ هـ ش کال د ستراتیژیک پلان د لومړۍ ربعی تطبیقی راپور له تاسو سره شریک کوم. د حقوقو او سیاسی علومو پوهنځي د ۱۴۰۲ هـ ش د لومړۍ ربعی تطبیقی پلان د ۶۶ مواردو درلودونکی دی چې په خپله محدوده کې ټول هغه فعالیتونه رانغاړی چې د پوهنځی د ستراتیژیکو موخو د لاسته راوړلو لپاره یې اجراء کول اړین دي.

د حقوقو او سیاسی علومو پوهنځي ټولو اړوندو څانګو (ډیپارتمنتونو، مدیریتونو او د تضمین کیفیت کمېټو) د همدی تطبیقی پلان پر بنسټ خپل کاری او عملیاتی پلانونه ترتیب کړی چې له مخی یې هغه کړنی چې په ۱۴۰۲ هـ ش کال کې یې اجراء کول پیش بینی شوی په درست او منظم ډول سره ترلاسه شی. په همدی موخه د حقوقو او سیاسی علومو پوهنځی د ستراتیژیک پلان د تطبیق څخه په مختلفو وختونو کې لازم نظارت ترسره کړی او د چارو د ښه بهبود په موخه یې لازم پیشنهادونه او هدایات وړاندی کړي دی.

د حقوقو او سیاسی علومو پوهنځی ټولو اړوندو څانګو د تطبیقی پلان د میاشتینی راپورونه ترتیب کړی او په دی سره یې د خپلو ستراتیژیکو موخو د لاسته راوړلو زمینه برابره کړی. په همدی ترتیب ټولو اړوندو شعبو د خپلو کارونو او عینی شرایطو په کتو سره لازم پیشنهادات د شته ستونزو د حل په موخه پوهنځي ته وړاندی کړی دی.

د ستراتیژیک پلان کلنۍ تطبیقي راپور په پلان کې د ټولو پیشبینی شواهدو په موجودیت مشمول دی. د تطبیقی پلان د ټولو اجراء شوو موارد اسناد اوشواهد په دی راپور کې ضم شوی دي. ټولی هغه کړنی چې د پلان برخه وی په حداکثر شکل سره اجراء شوی دي. د یادولو وړ ده چې د تطبیقی پلان ځینی برخی په هېواد کې دشته وضیعت له امله هغه ډول چې پیشبینی شوی دی نه دی اجراء شوی او په دی راپور کې یې د نه اجراء کیدو دلایل هم وړاندی شوی دی.

په پای کې زه د حقوقو اوسیاسی علومو پوهنځي له ژمن او فعال کاري ټیم څخه مننه کوم چې په پوره صداقت او ایمانداری یې د ددی علمی کاروان لپاره نه ستړی کیدونکې هلې ځلې کړي او د لا پرمختګ په لور ګامونه اخلي، هیله مي داده چې په ګډه سره خپلو ټاکلو اهدافو ته ورسیږو  او د خپلو پلانونو ټولی برخی او ژمني په ښه شکل عملي کړو.

زاهدالله (سیدي)

د حقوقو او سیاسی علومو پوهنځی ریس

## فهرست


| مطالب | صفحه |
|---|---|
| **د ریس پیغام** | 2 |
| فهرست | 3 |
| د فعالیتونو خلاصه | **Error! Bookmark not defined.** |
| **مقدمه** | 4 |
| د فعالیتونو خلاصه: | 5 |
| **د راپور ضمایم:** | 10 |
| **پایله** | 32 |
| **وړاندیزونه** | 32 |
| **لاسته راوړنی** | 32 |
| **ننګونی** | 33 |
| **د حل لاری** | 33 |

## مقدمه

د حقوقو او سیاسی علومو پوهنځي د خپلو ستراتیژیکو موخو د لاسته راوړلو لپاره د ۱۴۰۲ کال د شروع څخه تر اوسه پوری په لازم ډول خپل فعالیتونه د تطبیقی پلان له مخي ترسره کړي. د پوهنځي ټولو اړوندو برخو د تطبیقی پلان مطابق د خپلو عملیاتی پلانونو د جوړولو وروسته ټولی هغه اختصاصي برخي چې د ستراتیژیکو موخو د لاسته راوړلو لپاره اړیني وي او باید په ۱۴۰۲هـ ش کال کې ترسره شوی وی په په لازم ډول ترسره کړي دي.

دا چې د تطبقي پلان د جوړولو په وخت کې په لازم ډول د استادانو او اداري کارمندانو نظریات ترلاسه شوی و او پلان د ستراتیژیکو موخو د لاسته راوړلو لپاره عینی شرایطو ته په کتو ترتیب او تائید شوی و نو د حقوقو او سیاسی علومو پوهنځی دغه پلان په مناسب ډول عملی کړی. د تطبیقی پلان هغه برخي چې د ځینو مشکلاتو په اساس نه دی ترسره شو په دی راپور کې په مشرح ډول د دلایلو په اساس ذکر شوی دي. په دغه راپور کې د تطبیقی پلان د ټولو مواردو د ترسره کېدو او نه ترسره کېدو اسناد او شواهد ځای پر ځای شوی چې د پلان او پالیسی کمېټي د تائید وروسته د پوهنځی علمی شورا ته استول شوی او په دغه شورا کې د بحث څخه وروسته د رایو په اکثریت تائید او د مؤسسی علمی شورا ته وړاندی شو دی.

په دغه راپور کې د ټولو اړوندو کړنو اسناد او شواهد د نمونی په شکل سره ذکر شوي دي لکه د کال په جریان کې د محصیلینو او استادانو لپاره په هره میاشت کې سیمینارونه او ورکشاپونه د مختلفو موضوعاتو په اړه وړاندی شوي خو په راپور کې ددغي ورکشاپونو او سیمینارونو څخه يې د نمونی په شکل ذکر شوی دی. همدارنګه د ځینی کړنو لپاره د شواهدو شتون ته اړتیا نه لیدل کیده په همدی اساس يې د شواهدو او اسنادو د راوړلو څخه ډډه شوي ده لکه دکال په جریان کې د استادانو لخوا د تدریسی بهیر دوامداره جریان.

باید ذکر شی چې د حقوقو او سیاسی علومو پوهنځی په مجموعی ډول سره دخپل پلان د عملی کولو له طریقه مختلفی لاسته راوړنی درلودلی دی چې ددی راپور په وروستی برخه کې يې یادونه شوی او هغه ستونزی چې د حقوقو او سیاسی علومو پوهنځی ورسره د کال په جریان کې مخ شوی دی هم ور څخه یادونه شوی چې د راپور په ورستی برخه کې يې د حل لاری د يو پیشنهاد په شکل سره ذکر شوی دي.

د فعالیتونو خلاصه:

| شماره | فعالیتونه | د فعال یت د پیل نېټه | د فعالیت د پای نېټه | کتنې |
|---|---|---|---|---|
| ۱ | د حقوقو پوهنځي د استراتیژیک پلان تعدیل | حمل (۱) | حمل (۳۰) | د حقوقو او سیاسی علومو پوهنځي ستراتیژیک پلان د تعدیل په موخه یوه منظمه پوښتنپانه ترتیب شوه چې د داخلی او خارجي محیطی عواملو باندې مشتمله وه او ټولو اړوندو برخو ته واستول شوه د پوښتنپانې د راټولو وروسته د پوهنځي او مؤسسې د رهبرۍ لارښوونې په اساس وپتیل شوه چې د ستراتیژیک پلان تعدیل په اوسنیو شرایطو کې اړین نه دی نو په همدې دلیل دغه چاره په خپل ځای پاتې او ادامه ورنه کړل شوه. |
| ۲ | د دیپارتمنتونو د استراتیژیکو پلانونو تدوین | حمل (۱) | ثور (۲۸) | د دواړو څانګو (سیاسی علومو او نړیوالو اړیکو او حقوقي علومو څانګې) ستراتیژیک پلانونو د ستراتیژیک پلان د رهنمود مطابق بشپړ او د اړونده شعبو او څانګو څخه تاید شوه. |
| ۳ | د معلوماتي ټکنالوژۍ په برخه کې د یو کلان انکشافی پلان جوړول | حمل (۱) | حمل (۳۰) | د معلوماتي ټکنالوژۍ په برخه کې یو کلن انکشافی پلان ترتیب شوی. |
| ۴ | د علمي څېړنو یو کلن انکشافي پلان تدوین | حمل (۱) | ثور (۲۸) | د علمي څېړنو په برخه کې یو کلن انکشافي پلان ترتیب شوی دی. |
| ۵ | د پوهنځی یو کلن مالی پلان | حمل (۱) | ثور (۲۸) | د پوهنځي یو کلن مالی پلان شتونو لري. |
| ۶ | په کتابتون کې د حقوقو او سیاسی علومو پوهنځي د برخې د کتابونو د غنی کولو لپاره د میکانیزم رامنځته کول | حمل (۱) | ثور (۲۸) | په کتابتون کې د حقوقو او سیاسی علومو پوهنځی د برخې د کتابونو د غنی کولو په اړه لازم کړنې ترسره شوی. |
| ۷ | د تدریسي سهولتونو د بهبود یو کلن انکشافي پلان تدوین | حمل (۱) | ثور (۲۸) | د تدریسی سهولتونو د بهبود یو کلن انکشافی پلان ترتیب شوی. |
| ۸ | د پوهنځی د کاري پلان له تطبیق څخه د څارنې ربعوار او کلنې توحیدي راپورونو جوړول | حمل (۱) | دلوې (۲۱) | اړونده راپورونه ترتیب شوی دی. |
| ۹ | د پوهنځی علمي شورى ته د کلنې کاري ( تطبیقي ) راپور وړاندې کول | | دلوې ( ۳۰) | چاره به په خپل ټاکل شوی وخت سره اجراء شي. |
| ۱۰ | د پوهنځی په ویب سایټ او ټولنیزو صفحو کې د کلنې کاري ( تطبیقي ) راپور خپرول | | حوت (۳) | چاره به په خپل ټاکل شوی وخت سره اجراء شی. |
| ۱۱ | د پوهنځي د کاري پلان د تطبیق په نتیجه کې د تر لاسه شوو انکشافاتو کلنی راپور جوړول | | دلوې (۲۱) | چاره به په خپل ټاکل شوی وخت سره اجراء شی. |
| ۱۲ | د پوهنځي د ۱۴۰۳ هـ ش کال کاري ( تطبیقي ) پلان تهیه او تنظیم | | حوت (۱۰) | چاره به په خپل ټاکل شوی وخت سره اجراء شی. |

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| ۱۳ | د پوهنځي په تشکیلاتو بیا کتنه | اسد (۱) | حوت (۵) | چاره به په خپل ټاکل شوی وخت سره اجراء شی. |
| ۱۴ | د پوهنځي د کلني مهال ویش مطابق د علمي شورى ګانو تدویر | حمل (۱) | حوت۲ ۹ | د مهالویش مطابق علمي شورا ګانې دایرى شوى دی. |
| ۱۵ | په سمستروار شکل د استادانو، اداري کارمندانو او محصلانو سره ناستې | حمل (۱) | دلوې (۱) | د استادانو، اداری کارمندانو او محصلانو سره ناستې ترسره شوی. |
| ۱۶ | د کلني مهال ویش مطابق د ډیپارتمنتونو د شورى ګانو تدویر | حمل (۱) | حوت (۲۹) | د ډیپارتمنتونو شوراګاني د مهالویش مطابق ترسره شوی. |
| ۱۷ | د کلني مهال ویش مطابق د کیفیت لوړوني او تضمین فرعي کمېټو جلساتو تدویر | حمل (۱) | حوت (۲۹) | د کمېټو جلسات په ټاکل شوی وخت ترسره شوی. |
| ۱۸ | د پوهنځي د رئیس له لورې د تدریسی مدیریت او ډیپارټمنټونو کلنی ارزونه | | دلوې ۷ او ۸ | چاره به په خپل ټاکل شوی وخت سره اجراء شی. |
| ۱۹ | پوهنځي، ډیپارتمنت او محصلانو له لورې د استادانو ارزونه | حمل ۱ | قوس ۳۰ | د استادانو ارزونه ترسره شوی. |
| ۳۰ | د پوهنځي رئیس له لورې د مؤسسی علمي شورى ته د کلني کاري راپور وړاندې کول | | دلوې (۳۰) | چاره به په خپل ټاکل شوی وخت سره اجراء شی. |
| ۲۱ | د ډیپارتمنتونو د امرینو له لورې د پوهنځیو علمي شورى ګانو ته د کلنیو کاري راپورونو وړاندې کول | | دلوې (۲۱) | چاره به په خپل ټاکل شوی وخت سره اجراء شی. |
| ۲۲ | د استادانو، اداري کارمندانو او محصلانو مکافات او مجازات | | | ممتاز محصیلین او استادان ستایل شوی او همدارنګه د تخلفاتو په صورت کي ادراي مؤیدات تطبیق شوی. |
| ۲۳ | د اداري فساد پر وړاندې مبارزه | | | په ټولو برخو کي دغه چاره په نظر کي نیول کېږي. |
| ۲۴ | د استادانو، کارمندانو او محصلانو شکایاتو ته رسیدګي | | | د ضرورت په وخت کي نوموړی چاره ترسره شوی. |
| ۲۵ | د اخلاقي، نظم ـ دسپلین او د انصاف ـ عدالت له کودونو او اصولو تامین او څارنه | | | دغه کړنه په منظم ډول سره ترسره شوی. |
| ۲۶ | ۱۴۰۳ هـ ش ( د پوهنځي د رئیس څخه نیولې تر دکیفیت لوړوني او تضمین فرعي کمېټو ) پورې (د عملیاتي پلانونو) تهیه او تدوین | | حوت ۱۲-۱۷ | چاره به په خپل ټاکل شوی وخت سره اجراء شی. |
| ۲۷ | د څېړنېزو پروژو اخیستل | | | په متداوم ډول دغه چاره جریان لری. |
| ۲۸ | انتفاعي اړخ ته د حقوقي کلینیک د فعالیتونو اړول | | | چاره نه ده ترسره شوی. |

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| ۲۹ | غایبو محصلانو تعقیب | | | چاره ترسره شوی. ټولو غایبو محصیلنو سره تماس نیول شوی او د هغوی د مشکلا او د غیابت د دلایلو د اوریدول څخه وروسته لازم او قناعت بخش تصامیم نیول شوی. |
| ۳۰ | د کانکور په ازموینو کې په کافي حد کې د محصلانو جذب | | | چاره به په خپل ټاکل شوی وخت سره اجراء شی. |
| ۳۱ | د کریمنالتخنیک لابراتوار جوړول | حمل ۱ | جوزا ۳۱ | د روان اقتصادي وضیعت په نظر کې نیولو سره دغه چاره په راتلونکې ربعه کې ترسره کیږي. |
| ۳۲ | د سیاسي او دیپلوماتیکو قضایاو د تطبیقاتو خونه | حمل ۱ | جوزا ۳۱ | د سیاسی او ډیپلوماتیکو تشریفاتو مرکز او خونه رامنځته شوی ده. |
| ۳۳ | د موجوده ټولو پالیسیو او طرزالعملونو تجدید نظر | حمل ۱ | سرطا ن ۲۹ | ټولي موجوده پالیسیاني او طرزالعملونه تجدید نظر شوی. |
| ۳۴ | د کاري ( تطبیقي ) پلانونو د تهیي، اجرا او څارني میکانیزم | حمل ۱ | ثور ۲۸ | نوموړي چاره په منظمه توګه ترسره کړی ده. |
| ۳۵ | دپوهنځی په کچه توامیتونو د ایجاد میکانیزم | حمل ۱ | ثور ۲۸ | د پوهنځی په کچه توامیتونه رامنځته شوی دی چې اسناد او شواهد یې ددی راپورسره ضم دی. |
| ۳۶ | د توامیتونو د اجرا ( تطبیق ) میکانیزم | حمل ۱ | ثور ۲۸ | د تطبیق میکانیزم ترتیب او تنظیم شوی. |
| ۳۷ | په ټولنه کې د ونډې اخیستلو میکانیزم | حمل ۱ | ثور ۲۸ | په ټولنه کې د ونډي اخیستلو میکانیزم رامنځته شوی. |
| ۳۸ | شکایاتو ته د رسیدګی میکانیزم | حمل ۱ | ثور ۲۸ | شکایتونو ته درسیده ګی میکانیزم رامنځته شوی. |
| ۳۹ | اکاډمیکو، اداري او محصلانو تخلفاتو ته د رسیدګی میکانیزم | حمل ۱ | جوزا ۳۱ | اکاډمیکو، اداري او محصلانو تخلفاتو ته د رسیدګی میکانیزم |
| ۴۰ | د ازموینو طرزالعمل | حمل ۱ | ثور ۲۸ | د ازموینو طرزالعمل ترتیب شوی. |
| ۴۱ | د تحصیلي نصاب د تطبیق څارنه، بیا کتنه او انکشاف | حمل ۱ | دلوې ۱ | په دوامداره ډول سره نوموړی چاره ترسره شوی ده. |
| ۴۲ | د هرې علمي برنامې کلنۍ څارنه ( APM ) تر سره کول | حمل ۱ | دلوې ۱ | نوموړی چاره ترسره شوی. |
| ۴۳ | د محصلانو د نظریاتو او وراندیزونو پر بناء د کورس پالیسیو تعدیل | حمل ۱ | دلوې ۱ | دغې چاری ته د ضرورت په وخت کې رسیده ګې کیږي. |
| ۴۴ | استادانو ته OBE/SCL محصل محوری ورکشاپونو تدویر | جوزا ۱ | جوزا ۱۳ | نوموړی کړني ترسره شوی دی. |
| ۴۵ | د علمي څېړنو لپاره د بودیجې تخصیص | | ثور ۲۸ | کړنه ترسره شوی. |
| ۴۶ | په څېړنیزو مسایلو کې د استادانو، کارمندانو او محصلانو کیفي ارتقاء لپاره د کورسونو، سیمینارونو او ورکشاپونو تدویر | حمل ۱ | دلوې ۱ | د استادانو، اداری کارمندانو او محصیلنو ته د کیفی ارتقاء لپاره لازم سیمینارونه او ورکشاپونه دایر شوی دی. |

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| ۴۷ | د تشویق او ترغیب په موخه مؤسسی ته د غوره څیړنو ترسره کوونکو استادانو معرفی کول. | میزا ن ۱ | حوت ۲ | نوموړی چاره په خپل وخت سره ترسره شی. |
| ۴۸ | نړیوالو معتبرو ژورنالونو ته د استادانو، کارمندانو او محصلانو لاس رسی | | | نوموړی چاره هم په متداوم ډول سره جریان لری او د ځینو استادانو د مقالو عناوین د علمی شور ا او علمی څیړنو کمېټې په جلساتو کې تایید شوی دی. |
| ۴۹ | په نړیوالو ژورنالونو کې حداقل له هر دیپارتمنت څخه د څلور تنو استادانو څیړنو خپرول | حمل ۱ | سنبلې ۳۰ | د هر ډیپارتمنټ څخه څلور عناوین تاید او به نړیوالو ژورنالونو کې د نشر په موخه ترتیب شوی دی. |
| ۵۰ | په مختلفو داخلي علمي مجلو او ژورنالونو کې د استادانو د علمي مقالو او څېړنو خپرول | حمل ۱ | سنبلې ۳۰ | په ملی کچه د استادانو او محصیلنو د مقالو عناوین ترتیب شوی او کار یې جریان لري. |
| ۵۱ | په هر دیپارتمنت کې د څلور تنو استادانو رسمي او دایمي تقرر | حمل ۱ | اسد ۳۰ | چاره ترسره شوی او په هر ډیپارتمنټ کې څلور تنه رسمي استادانو تقرر پّ جریان کې دی. |
| ۵۲ | د کیفیت لوړوني او تضمین اړوند مسایلو کې استادانو، کارمندانو او محصلانو ته د علمي سیمینارونو او ورکشاپونو تدویر | حمل ۱ | سرطا ن ۲۹ | په دې اړوند د تضمین کیفیت امریت او تضمین کیفیت کمېټې له لوري سیمینارونه ترتیب شوی دی. |
| ۵۳ | د پوهنځی په کتلاک بیاکتنه او د ډیپارتمنتونو د کتلاکونو جوړول | حمل ۱ | جوزا ۳۱ | چاره په منظم ډول سره بشپړه شوی ده. |
| ۵۴ | د ویب سایټ کې د حقوقو او سیاسی علومو پوهنځی د برخی وده او انکشاف | حمل ۱ | حوت ۲۹ | چاره په دوامداره توګه جریان لری. |
| ۵۵ | د حقوقو او سیاسی علومو پوهنځي لپاره Facebook جوړول | حمل ۲۱ | حمل ۲۲ | د حقوقو او سیاسی علومو پوهنځي فیسبوک پاڼه جوړه شوی او نشرات په کې جریان لری. |
| ۵۶ | په ویب سایټ او د پوهنځي په ټولنیزو صفحاتو کې د علمي څېړنو د پایلو شریکول | | | نوموړی کړنه به د څیړنو د ترسره کولو څخه وروسته ترسره شی. |
| ۵۷ | د ملي او نړیوالو ورځو نمانځل | | | نوموړی کړنه نه ده ترسره شوی. |
| ۵۸ | په ملي او ټولنیزو اشرونو کې د پوهنځي د استادانو، کارمندانو او محصلانو ګډون | | | نوموړی کړنه په متداوم ډول سره جریان لری. |
| ۵۹ | د ټولنې د ستونزو او چارو سره په مطابقت کې د محصلانو ګروپي څېړنې او علمي کارونه | حمل ۱ | حوت ۲۹ | د محصلانو پر مټ د ټولنی د ستونزی د حل په موخه څیړنیز موضوعات نه دي ترتیب شوی دغه کړنه به د راتلونکې ربعه کې په اولویت کې شامله او نتیجه به یې د راتلونکی ربعی په راپور کې ضمیمه شی. |

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| د استادانو د مهارتونو د لوړوای په موخه علمی کنفر انسونه، سیمینارونه او ورکشاپونه په لاره اچول شوی. | حوت ۲۹ | حمل ۱ | د استادانو د وړتیاوو او مهارتونو د لوړولو لپاره د علمي کنفراسونو، سیمینارونو او ورکشاپونو تدویر | ۶۰ |
| اداري کارمندانو د وړتیاوو او مهارتونو د لوړولو لپاره د علمي کنفراسونو، سیمینارونو او ورکشاپونه په لا ره اچول شوی. | حوت ۲۹ | حمل ۱ | د اداري کارمندانو د وړتیاوو او مهارتونو د لوړولو لپاره د علمي کنفراسونو، سیمینارونو او ورکشاپونو تدویر | ۶۱ |
| د محصلانو د وړتیاوو او مهارتونو د لوړولو لپاره د اغېزناکو عملی برنامو، کنفراسونو، سیمینارونو او ورکشاپونه په لاره اچول شوی. | حوت ۲۹ | حمل ۱ | د محصلانو د وړتیاوو او مهارتونو د لوړولو لپاره د اغېزناکو عملی برنامو، کنفراسونو، سیمینارونو او ورکشاپونو تدویر | ۶۲ |
| د پوهنځی په ظرفیت لوړونه او بهبود کې د ګډو همکاریو د پروتوکلونو څخه ګټه اخیستل کیږي. د نمونی به شکل کولای شو داروکالی ته د محصیلنو د ورتګ څخه یادونه کولای شو. | حوت ۲۹ | حمل ۱ | د پوهنځی په ظرفیت لوړونه او بهبود کې د ګډو همکاریو د پروتوکلونو څخه ګټه اخیستل | ۶۳ |
| نوموړی چاره به په خپل وخت سره اجرار شی. | دلوې ۱ | | د پوهنځي توامیتونو له اجرااتو څخه د تطبیقي راپور تهیه او تنظیم | ۶۴ |
| نوموړی چاره به په خپل وخت سره اجرار شی. | عقرب ۴ | | خودي ارزونه تر سره کول | ۶۵ |
| نوموړی چاره به په خپل وخت سره اجرار شی. | دلوې ۳۰ | | بشپړ اکاډمیک اعتبار اخیستل | ۶۶ |

## د راپور ضمایم:

**شماره ۱ :** د دیپارتمنتونو د استراتېژیکو پلانونو تدوین په موخه محصلینو ته پوښتنپاڼه وویشل شوه او د ځانګي د امرینو په موموجودیت کې تشریح او راټول شوه.








**شماره۲: د پوهنځي د کلني مهال ویش مطابق ټولی غونډې د پوهنځی د ریس استاد زاهدالله سیدی تر مشرۍ لاندي ترسره کړی دی.**







**شماره۳: په سمستروار شکل د استادانو، اداري کارمندانو او محصلانو سره ناستې**

**شماره ۴: د کلني مهال ویش مطابق د دیپارتمنتونو د شورى ګانو تدویر**










PROFESSIONAL
DEVELOPMENT
مسلكي پرمختيا مركز
CENTER





**شماره۵: په سمستروار شکل د استادانو، اداري کارمندانو او محصلانو سره ناستې**


**شماره ۶: د کلني مهال ویش مطابق د کیفیت لوړوني او تضمین فرعي کمېټو جلساتو تدویر**

















**شماره ۸: د سیاسي او دیپلوماتیکو قضایاو د تطبیقاتو خونه پرانیستل شوه او عملا په کې د محصیلینو د ظرفیت لوړونی په موخه سیمینارونه او عملی کارونه شروع شوی.**











WELCOME TO DCC
CENTE
مسلکي پرمختیا مرکز
LEARNING
WORKSHOP
SKILLS
SEMINA
TRAINING & DEVELOPME








**شماره ۹: په څېړنېزو مسايلو کې د استادانو، کارمندانو او محصلانو کيفي ارتقاء لپاره د کورسونو، سيمينارونو او ورکشاپونو تدوير**















**شماره ۱۰: په نړیوالو ژورنالونو کې حداقل له هر دیپارتمنت څخه د څلور تنو استادانو څېړنو خپرول چې عنانونه یې د عملی څیړنو په کمېټه کې ثبت شوی ده.**





د حقوقو او سیاسي علومو پوهنځی

د سیاسي علومو او نړیوالو اړیکو خانګه


ملي او بین المللی ژورنالونو ته د خپرېږي موضوع د ټاکلو جدول

| د استاد نوم | خانګه | موضوع | ملي مجله | بین المللی | د لیکني ژبه | د لیکني ډول | لاسلیک |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| لطف الله عزيزي | سیاسي علومو او نړیوالو اړیکو خانګه | Joint Criminal Enterprise as a Mode of Individual Criminal Responsibility under the Rome Statute | | بین المللی | انګلیسي | کتابتوني | |
| احمدنشاط کلیوال او څیړندوي عبد الصبور مبارز | سیاسي علومو او نړیوالو اړیکو خانګه | The Geopolitics of North South Corridor: Role of Afghanistan | | بین المللی | انګلیسي | کتابتوني | |
| سید اسرار صمیم | سیاسي علومو او نړیوالو اړیکو خانګه | The role of Interest Groups in Shaping of Public policy: A case Study of Afghanistan between (2014-2021) | | بین المللی | انګلیسي | کتابتوني | |
| زاهدالله خلیلي | سیاسي علومو او نړیوالو اړیکو خانګه | Afghanistan-Pakistan Political Relations (1963-73) | | بین المللی | انګلیسي | کتابتوني | |
| نیاز محمد همدرد | سیاسي علومو او نړیوالو اړیکو خانګه | The Perception of Afghan Nation of Pakistan's Border Management Policy | | بین المللی | انګلیسي | کتابتوني / میداني | |
| پوهنمل عبدالمتین جلیلي | سیاسي علومو او نړیوالو اړیکو خانګه | د خوږو اوبو ډیپلوماسي | ملي | | پښتو | کتابتوني | |
| عبد العزیز همت | سیاسي علومو او نړیوالو اړیکو خانګه | په نړیوال سیاست کې د جېت نیوني (ستراتېژي) | ملي | | پښتو | کتابتوني | |
| عزت الله عزیز | سیاسي علومو او نړیوالو اړیکو خانګه | په دولتونو باندې د نه رسمیت پېژندنې اغېزې | ملي | | پښتو | کتابتوني | |
| اسلام الدین منیب | سیاسي علومو او نړیوالو اړیکو خانګه | د قسم د کفارې احکام د اسلامي فقهې له نظره | ملي | | پښتو | کتابتوني | |

پورته ډول د سیاسي علومو او نړیوالو اړیکو دخانګې د څېړنیزو موضوعاتو لیست د حوت میاشت په فوق العاده مجلس کې د استادانو د رایو په اکثریت تائید دي او په (۱۷/ ۱۲/ ۱۴۰۱) نیټه تائید دي او په (۱۶) ګڼه پروتوکول کې ثبت دي

د سیاسي علومو او نړیوالو اړیکو خانګې آمر

احمد نشاط کلیوال



| | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| 10 | خوشحال جواد | حقوقي علوم | د اسلام له نظره د اساسي قانون د تدوین منطق، اړتیا او اهمیت | ملي | | پښتو | کتابتوني | |
| 11 | بختیار حلیمي | | په بانکداری کې د تورق رول | | | پښتو | کتابتوني | |
| 12 | بادام ګل رحیمي | | تعدد جرایم و تاثیر آن برمجازات | ملي | | دری | کتابتوني | |
| 13 | محمد نبي سعید | حقوقي | منکوحې ته د مهر ورکولو اهمیت اندازه او په نکاح یې تاثیرات د اسلام له نظره | ملي | | پښتو | کتابتوني | |
| 14 | نقیب الله مطمن | حقوقي | د بشخو لپاره د عصري علومو زده کړې | ملي | | پښتو | کتابتوني | |
| 15 | ذاهد الله سیدي | حقوقي | د اداري موسساتو د تطبیق څرنګوالی | ملي | | پښتو | کتابتوني | |
| 16 | محمد عمران دولتزی | حقوقي | شخصیت حقوقي د اسلام له نظره | ملي | | پښتو | کتابتوني | |

پورته موضوعات دد حقوقي علومو خانګې د څېړنیزو موضوعاتو لیست د حوت میاشت په فوق العاده مجلس کې د استادانو د رایو په اکثریت تائید دي او په (۱۲/۸/ ۱۴۰۱) نیټه تائید دي او په (۱۴) ګڼه پروتوکول کې ثبت دي

حقوقي علومو خانګې آمر

عزت الله عزیز

**شماره۱۱: په مختلفو داخلي علمي مجلو او ژورنالونو کي د استادانو د علمي مقالو او څېړنو خپرول: په التقوی علمی مجله کي د استادانو د مقالاتو نشر:**









**شماره ۱۲: په ځېړنېزو مسایلو کې د استادانو، کارمندانو او محصلانو کیفي ارتقاء لپاره د کورسونو، سیمینارونو او ورکشاپونو تدویر: استادانو ته د امر بالمعروف سیمینار وړاندی شو.**









**شماره ۱۳: د محصلینو پر مټ او  د تضمین کیفیت کمېټي په مرسته د استادانو ارزیابی:**












**شماره۱۴: د حقوقو او سیاسی علومو پوهنځي لپاره Facebook جوړ شو او عملا په کې د فعالیتونو نشر پیل دی.**









**شماره ۱۵: د محصیلینو د ظرفیت لوړونی لپاره د سیمینارونو سره سره عملی برنامی هم په دی ربعه کې په لار اچول شوی چې به لاندي دول تری د نمونی په شکل استفاده کوو:**














د عملی زده کړو په موخه دالوکالی ته د محصلینو سفر








WELCOME TO PDC


TRAINING
CENTER







**شماره ۱۵: د څیړنو لپاره د یو کلن انکشافی پلان شتون:**






شماره ۱۶: د پوهنځی کتلاک او دیپارتمنتونو د کتلاکونو نوی کول او تجدید کول



## پایله

د ۱۴۰۲ هـ ش کال د حقوقو او سیاسی علومو پوهنځي د تطبیقی پلان چې په کلی ډول د ۶۶ مواردو لرونکی دی په منظم ډول عملی کړی. د حقوقو او سیاسی علومو پوهنځی د علمی شوراګانو په ګډون په یاد کال کې ځانګړی هوکړه لیکونه، د استادانو او اداري کارمندانو استخدام، د ټولو قوانینو او مقرراتو عملی کول، د کمېټو، ډیپارتمنټونو او اړونده څانګو ارزیابی کول، د استادانو او محصیلینو تشویقول، د علمی څیړنو او کنفرانسونو برابرول، د مالی او اداری برخو د امورو ترتیبول او تنظیمول، د امریتونو ارزیابی کول، د خزانی کانکور اړوند کړنی ترسره کول او اړونده نوری کړنی ترسره کړی دی.

د حقوقو او سیاسی علومو پوهنځی د تطبیقی پلان ځینی موارد چې د دهغی د جملی څخه د کریمنالتخنیک لابراتوار جوړول دی په هغه ډول چې لازم دی نه دی ترسره کړی. باید ذکر شی چې په دی راپور کې د هغه کړنو چې ترسره شوی نه دی د نه ترسره کېدو دلایل یې په مشرح ډول سره ذکر شوی دی.

## وړاندیزونه

1. په چارو کې د هماهنګی د منځته راوړلو لپاره د تضمین کیفیت ټولی کمېټي باید د اسی مکان ته انتقال شی چې وکولای شی د مؤسسی د کمیټو سره یو ځای خپل کارونه ترتیب او تنظیم کړی.
2. د کمېټو د غړو او مسؤلینو لپاره باید په تدریسی ساعتونو کې کمښت رامنځته شی تر څو وکولای شی چې په منظم ډول سره خپلو کړنو ته رسیده ګی وکړی.
3. د هری کمېټي لپاره باید په جداګانه ډول ټول دفتری وسایل (الماری، کمپیوټر او د امکان په صورت کې پرینټر) موجود وی.
4. د ټولو پلانونو د تطبیق د نظارت په موخه باید یو مشخص کمېسیون رامنځته شی تر څو د موجوده پلانونو د تطبیق څخه اطمینان حاصل شی.
5. د ټولو کمېټو د مسؤلینو او غړو د لا ښه پوهاوی لپاره باید په هره برخه کې لازم سیمینارونه او ورکشاپونه ترتیب شی تر څو د کمېټو غړی او مسؤلین خپلی چاری په منظم ډول سره ترسره کړی.
6. د پوهنځي د څانګو لپاره باید مستقل دفترونه موجود وی تر څو د کارونو د ښه اجراء کیدو سبب شی.
7. د پوهنځي کتابونه او د کمپیوترلیب کمپیوترونه د محصیلینو په تناسب نه دی برابر باید په اندازه کې یې اضافه والی راشی.

## لاسته راوړنی

په ۱۴۰۱ هـ ش کال کې د حقوقو او سیاسی علومو پوهنځی ځینی مهمی لاسته راوړنی په لاندی ډول دي:

- د حقوقی کلینیک لپارده د منظم صالونو جوړول.
- د څانګو د نومونو بدلول.
- د دیپلماتیکو تشریفاتو مرکز رامنځته کول.
- په لازمه اندازه د محصلینو جذب.
- په شفاف ډول سره د ازموینو اخیستل.
- د دیپارټمنتونو د کتلاکونو جوړول.

- د دیپارټمنټونو د ستراتیژیک پلانونو جوړول.
- په اړونده برخو کې د ځینو پالیسیو رامنځته کول.

## ننګونی

- د حقوقی کلینیک په برخه کې د دایمی ټرینرانو نه موجودیت.
- د حقوقی کلینیک په برخه کې د ذیربطه مراجعو سره د تفاهم نامو نه شتون.
- د پوهنځی د چارو د ښه ترسره کولو لپاره د څانګو لپاره جداګانه کاری دفترونه.
- په اداری او دیپلماسی څانګه کې د مسلکی کادرونو کموالی.
- د استادانو له خوا د ملی او بین المللی کچه د څیړنو کموالی.
- د استادانو لپاره د څیړنو د واحد مرکز او سهولتونو نه شتون.
- استادانو ته د متعددو مضامینو ورکړه.
- د پوهنځي د موقفونو او د کمېټو د مسؤلینو ژر بدلون او نوی مسؤل ته د ټولو اسنادو په منظم ډول نه سپارل.
- **د حل لاری**
- د محصلینو د عملی زده کړو لپاره د حقوقي کلینک لپاره د متخصصینو دایمی استخدام تر څو په اړونده برخه کې د محصلینو لپاره تمثیلی محاکم او نور عملی کارونه وړاندی کړی.
- د تمثیلی محکمی لپاره  د مشخص صالون پراختیا او د نورو امکاناتو برابرول.
- د مجصیلینو د لاښه پوهاوی لپاره باید ټولو اړوندو نهادونو (محاکم، عدلی ریاست، مدافع وکیلانو ټولنه او داسی نور) سره تفاهنامی رامنځته شی.
- د چارو د ښه ترسره کولو لپاره باید د پوهنځی دواړو څانګو ته جداګانه دفاتر جوړ شی ترڅو کړنی په منظم ډول سره ترسره شی.
- په هره څانګه کې باید د ضرورت په اساس علمی کادر استخدام شی ترڅو د مضامینو د تعدد مخنیوی وشی. همدارنګه د کمېټو د غړو د ژر بدلون مخه باید د دایمی استادانو او  هغوی ته دکمېټي دچارو د ترسراوی په موخه امتیازات ورکړل شی.

پورتنی راپور د حقوقو او سیاسی علومو پوهنځي د ستراتیژیک پلان کمېټي  په (۴) ګڼه پروتوکول د (۱۴۰۲/۴/۴) عادي جلسی کې تر بحث لاندي ونیول شو او د رایو په اکثریت سره تایئدی دی

سید اسرار صمیم

د کمیټي مشر

پورتنی راپور د حقوقو او سیاسی علومو پوهنځي  په (   ) ګڼه پروتوکول د (   /   /۱۴۰۲) عادي/ فوق العاده  جلسی کې تر بحث لاندي ونیول شو او د رایو په اکثریت سره تایئدی دی

زاهدالله سیدی

د پوهنځی ریس